هيڅ مسلمان نشته چې کله د فرض لمانځه وخت راورسيږي، نو دی ورته ښايسته اودس وکړي، خشوع او رکوع يې پر ځای کړي مګر دا چې د مخکنيو ګناهونو لپاره به يې کفاره وګرځي، تر دې چې لويه (کبيره) ګناه ونه کړي. او همداسې د تل لپاره

له عثمان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «هيڅ مسلمان نشته چې کله د فرض لمانځه وخت راورسيږي، نو دی ورته ښايسته اودس وکړي، خشوع او رکوع يې پر ځای کړي مګر دا چې د مخکنيو ګناهونو لپاره به يې کفاره وګرځي، تر دې چې لويه (کبيره) ګناه ونه کړي. او همداسې د تل لپاره».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې هيڅ داسې مسلمان نشته چې د فرض لمانځه وخت پرې داخل شي او په ښه توګه اودس وکړي او بشپړ يې کړي، بيا په عاجز سره داسې لمونځ وکړي چې زړه او اندامونه يې ټول الله ته متوجې وي او د هغه عظمت يې په زړه کې حاضر کړی وي او د لمانځه کړنې لکه: رکوع، سجده او داسې نور بشپړ کړي، مګر دا چې دا لمونځ به يې د مخکنيو وړو ګناهونو لپاره کفاره وګرځي، تر دې چې لويه ګناه ونه کړي او دا فضيلت د تل لپاره په هر وخت او هر لمانځه کې دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6254